هدایت الله هدایت ۲۰۱۰/۹/۲۸

# د نړۍ د وتلو رسنیو او ورځپانو پېژندنه (۲۷) فاکس نیوز
# د فاکس نیوز تلوېزوني شبکه

« رسنۍ به ممکن موږ ته و نه وایي څرنګه فکر وکړو، خو په حیرانوونکي توګه موږ ته تلقینوي چې باید په څه شي کې فکر وکړو»

نن په امریکا کې د چاپي او الکترونکي رسنیو لویه برخه د بانفوذه یهودي میلیاردرانو په تصرف کې راغلي او د همدې لارې و خپلو اهدافو ته د رسېدو د پاره د پرګنو په ذهنیتو کې کار کوي ، د فرصت لحظې خلقوي، د هغه څخه ګټه اخلي او په دې وسیله د امریکا د ټولني و عمومي افکار و ته د خپلو غوښتنو په چوکاټ کې و هغه ته لورې ورکوي .

د سخت دریزه یهودانو د ذکاوت داهمه خواصو څخه یو هم دادئ چې هغوی تل د نړۍ د قدرت په مراکزو کې خپل نفوذ ساتلی اوبس هماغلته یې و ځانته هدفونه ټاکلي دي . هغوی د نورو عرصو تر څنګ د نړۍ پر عمده رسنیو باندي د ځان د حاکمیت په قابلیت باندي ښه ترها پوهیدلي او دادئ نن یې د امریکا او نړۍ د رنګارنګه او بانفوذه رسنیو ښارګونه په خپله ولکه کې را وستي دي . دوی اوس په دې حوزه کې دیوې اثرناکه حاکمې او قدرتمندې وسیلې په توګه ځان و میدان ته را ایستلی او دهغه څخه د خپلو استعماري اهدافو د تحقق دپاره د کارنده وسلې په توګه ګټه اخلي .

د فاکس نیوز خبري شبکه (FOX News Channel) په امریکا کې یوه مشهوره او موډرنه کیبلي تلوېزوني رسنۍ ده چې د فاکس د سرګرمیو د ګروپ لخوا(FOX Entertainment Group) په کار لوېدلې ده او اصلي آرګا و بارګا یې په لاس انجلس او کالیفرنیا کې موقعیت لري . دغه مجتمع د نیوز کورپ News Corp یا نیوز کارپرېشن News Corporation یوه برخه ده چې په امریکا کې یې د رسنیو یوه عظیمه مجموعه په ځان کې را مروړلې او مالک یې استرلیایي الاصله میلیارډر روپرټ مرډاک (Rupert Murdoch) دئ .

روپرټ مرډاک په ختګه یهود دئ ، تحصیل یې په انګلستان کې تکمیل کړی دئ خو اوس په امریکا کې اوسیږي . نوموړی نن سبا د نړۍ د رسنیو د سزار په نامه یاد یږي چې په دې عرصه کې د نړۍ خبري او تبلیغاتي داسي پېچلي شبکې یې په لاس کې نیولې اورهبري کوي چې یو سربېره په امریکا بل یې په انګلستان ، بل یې په استرلیا او اسیا کې قرار لري .په واقعیت کې د همدې قارو سیاسي او غیر سیاسي تبلیغاتي نبض د همدغه رسانه ای غول په لاس کې دئ .

د ۱۹۸۰ یمي لسیزې په پیل کې کله چې روپرټ مرډاک په تصویري او صوتي رسنیو کې د خپل نفوذ او قدرت و وسعت ته مخ کړ ، پرېکړه یې وکړه درسنیو یو پراخ بنسټه شرکت، د نیوز کورپ News Corp یا نیوز کارپرېشن (News Corporation) په نامه افتتاح کړي . سره ددې چې مرډاک د تلوېزوني شبکو په عرصه کې زیاته سرمایه ګزاري درلودله خو ددې شرکت په تأسیس سره یې ګویا د رسنیو په ساحه کې وخپل جغرافیایي قلمرو ته لا نور هم وسعت ورکړ . په امریکا کې ددې شرکت د لارې د فاکس په نامه د تلوېزوني شبکې خپرېدل د مرډاک ترټولو یو پر مصرفه او تاثیرناکه اقدام وو .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د مرډاک نیوز کورپ یا نیوز کارپرېشن چي د رسنیو یوه پراخه مجموعه ده ،د والټ ډیزني نه وروسته د نړۍ د رسنیو تر ټولو لویه کمپنی ده چي د ورځپانو، مجلو، ټلوېزوني شبکو، را ډیویي سټېشنو ، د هالیووډ د فیلم جوړولو په لویه انډسټری کي د شلمي پېړی د فاکس فلم (20th Century Fox Film) مشهوري سټډیوګاني ، د چاپي مطابعو یوه لویه مجموعه، انټرنټي شبکي او ډېر نورو زیات نهادونه په خپل څان کي را ټول کړي دي او پرهغو باندي تسلط لري . مرډاک نن د نړۍ د رسنیو په نړۍ وال

میدان کي هر ځای ځانته ځای او بازار لټوي . د مرډاک نیوز کورپ شرکت په ټوله نړی کي د نیویارک پوسټ» ، «وال سټریټ ژورنال» د لندن « ټایمز» په ګډون ، د ۱۷۵ نه زیاتي مشهوري ورځپاني، ۶۰ ټلوېزوني شبکي او ۴۰ مجلي تر خپلي اداري لاندي لري . په اسټرلیاکي د ددې هیواد درو ورځپانو څخه دوې ورځپاني د ده مالکیت دئ، په نیوزیلنډ کي د ورځپانو د تیراژ تقریباً نیمه برخه، د مرډاک ده، او په انګلستان کي د هر درو ورځپانو څخه یوه د نوموړي په واک کي ده . نیوز کار پرېشن په انګلستان کي د «ویلیام کالینز» (William Collins) او په امریکا کي د هارپر اینډ راو (Harper & Row) لویو غولپیکره مطابعو ملکیت په لاس کي لري . دغه بیا را وروسته د هارپر کالینز (HarperCollins) دطباعتي شرکت په نامه و نومول سو. نن مرډاک په هر څه کي لاس لري، د سکسي او جنسي مسائلو د اشاعت څخه را نیولي بیا د انجیل دمقدس کتاب تر چاپولوپوري . مرډاک د نیوز آف د ورلډ (News of the World) ورځپانه چي په انګلستان کي دسکس اولوڅو عکسود اشاعت اخبار دئ مالک دئ . دغه ورځپانه د ورځي ۴ میلیونه تیراژ لري ، په داسي حال کي چي په امریکا کي د واندرِ ون د انتشاراتو موسسي لخوا چي هغه هم د مرډاک په ملکیت کي ده د کاله ۷ میلیونه جلده انجیله چاپوي !.

د فاکس (Fox News) د ټلوېزوني شبکي اساس د ۱۹۸۵ م کال د مي په میاشت کي د روپرټ مرډاک لخوا په نیویارک کي کښېښودل سو . مرډاک د ۱۹۹۶ م کال په فبروری کي د امریکا دجمهوري غوښتونکو د ګوند د سیاسي سټراتیژیسټ روجر ایلیس (Roger Ailes) په همکاری د فاکس نیوز (Fox News) ټلوېزوني کېبلي شبکه فعاله او لومړنی خپرونه یې د همدې کال د اکتوبر په اوومه خپره او خپلو ۱۷ میلیونه کېبلي ګډون کوونکو ته و رسول . روجر تر دې دمخه د ان بي سي(NBC) په ټلوېزوني شبکه کي د اجرائیوي مدیرپه توګه کار کاوه ، خوددې وظیفي څخه یې د نورو وجوهاتو په خاطر ځان ګوښه کړی وو. د فاکس ټلوېزوني شبکه نن په امریکا کي د ABC ، CBS او MSNBC څخه را وروسته د دې هیواد څلورمه مشهوره او اترناکه ټلوېزوني شبکه ده. دغه تصویري رسنی نن د یوې حرفه ای شبکي په عنوان ځان مطرح کړی او په ډېرو پرمختللي او موډرنه ټکنالوژیو باندي ځان مجهزه کړی دئ . د فاکس ټلوېزوني شبکه په شپه او ورځ کي ۲۴ ساعته خپروني او مختلفي برنامي لري . دغه برنامي د ورځي ۱۵ ساعته ژوندی یا لایف خپرېږي . ددغو برنامو زیاتي برخي د نیویارک په سټډیو ګانو کي ثبتیږي چي خورا عالي تصویري کیفیت لري . تېرکال (۲۰۰۹) دغه شبکي د امریکا و ۱۰۲ میلیونو کورنیو ته ځان رسولی او نور ډېر نړی وال لیدونکي یې هم ځانته را جذب کړي وه . همدا اوس د نړۍ د ۶۰ څخه په زیاتو هیوادو نو کي ددې رسنی خپروني و خپلو ګډون کوونکو ته د کېبل د لاري د نیویارک د سټډیوګانو څخه رسیږي .

د فاکس خبري ویب سایټ چي د ۱۹۹۵ م کال څخه فعاله ده، دفاکس نیوز وروستي خبرونه په لیکه کوي . ددې ویب سایټ محتوی عمدتاً د فاکس د ټلوېزوني پروګرامو څخه ویډیوېي او تصویري کلیپونه او ږغي خبرونه یې بیا د فاکس د راډیو او د خبري ستونو څخه را اخیستل سوي دي .

د ۲۰۰۸ په سپتمبر کي د فاکس خبري کانل د « ستراتیژۍ د خوني» په نامه (The Strategy Room)یوه برخه پرانیستله چي په هغه کي ددې شبکي د پخوانیو مخاطبانو څخه استفاده کیږي . په دغه برخه کي د هغوی د خوښي برخه وال په غیر رسمي توګه د ورځي په خبرو باندي ږغیږي . همدارنګه رسمي بحثونه هم لري چي د « کار د ساعت » (Business Hour) ، «خبرونه د یو نظرسره» (News With a View) او « د خدای سره خبري» ( God Talk Hours) په برنامو کي وړاندي کیږي .

د فاکس نیوز د سټلایټ ټلوېزوني شبکه او په مجموع کي د نیوز کورپ د شرکت د کړنلاري هدف او ماموریت د نړۍ و هر کونج ته په اصطلاح د امریکایي « فرهنګ اوارزښونو» لیږدول او د هغوی رواجول دي .

د هري رسنی او د هغي جملي څخه د فاکس نیوز کاري فعالیت د هغي پر ایدیالوژیکي باورو باندي اتکاء لري او درسنیو خبري محتوی هم د هغوی د ایدیالوژیکي افکارو څخه متأثره کیږي . که څه هم فاکس نیوز د بېطرفی ادعا کوي ، خود نورو حوزو په تناسب د غه ټلوېزوني شبکه د سیاست په حوزه کي د امریکا د جمهوري غوښتونکو سخت دریزه محافظه کارانو خوا نیولي او د هغوی د ایدیاوو د خپرېدو اصلي منبع ده . فاکس نیوز شبکه تلاښ کوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د زیاتو هیوادو سیاستونه تر خپل رسانه ای تبلیغاتي کمپاین تر تـاثیر لانـدي راولـي او د امریکا د محافظه کـارانو تفکرات په ټوله نړۍ کي تبلیغ کړي . هغه ټولپوښتنه چي د کال ۲۰۰۹ په اکتوبر کي د PEW لخوا خپره سوه، فاکس نیوز د امریکا تر ټولو ایډیالوژیکه او تر ټولو محافظه کار ه خبري شبکه ښودل سوې وه .

په کال ۲۰۰۴ کي د روبرټ ګرین والډ (Robert Greenwald) په نامه لیکوال چي د مستنده فلمو ډایرکټر او جوړونکی دئ ، « د ژورنالیزم پر ضد د روپرټ مرداک جګړه » (Rupert Murdoch's War on Journalism)په نامه یو مستنده فلم جوړ کړ. په دې فلم کي نوموړي د ژورنالیسټ جان موډي (John Moody) چي د فاکس نیوز د عالیرتبه کارمندانو څخه وو،د هغه دشخصي یاد داښتو څخه استفاده کړېده، هغه وایي چي د فاکس نیوز د ټلویزوني شبکي خپروني په امریکا کي د محافظه کارانو د ډلي یعني د ( جمهوري غوښتونکو) د فکري خط څخه ریښه اخلي او تلاښ کوي چي دپیښو او خپلو خبري خپرونو محتوی د همدې فکري خط په چوکاټ کي ځای ا و هغه ته بدلون ورکړي . نوموړي د موډي د قوله ادعا کړېده چي په فاکس نیوز کي جمهوري غوښتونکو محافظه کارانو ریښي غزولي دي او تلاښ کوي چي په خبرنو کي د پیښو و محتوی ته بدلون ورکړي . هغه د نوموړي د وروستي کتاب په مقدمه کي چي په کال ۲۰۰۵ کي چاپ سوی وو، د فاکس نیوز په اړه و دغه ټکي ته پاملرنه کړېده او لیکي چي« کوم څه چي زه یې هیښ کړی یم هغه داچي د نقد په حوزه کي فاکس نیوز شبکي بیخي لږ څه نوشته کړي یا تولید کړي دي ... فاکس نیوز سیاسي جهت ګیري لري او بر الا د جمهوري غوښتونکو فکري خط تعقیبوي . په واقعیت کي د جمهوري غوښتونکو د نیو محافظه کارانو او فاکس نیوز تر منځ بر آلا اړیکي سته خو د هغو په باره کي هیڅ هم ندي څپاره سوي » .

ددې نه علاوه د زیاتو څېړونکو په باور د فاکس نیوز خبري رسنی د هغه نشراتي شعار څخه چي خپل ځانته یې ټاکلی دئ ، یعني « ناپیلتوب او تعادل» (Fair & Balanced) او یا « موږ ګزارش ور کوو، تاسو تصمیم و نیسی » (We Report. You Decide.) ، د هغه په خلاف عمل کوي . فاکس نیوز د خبر رسولو په برخه کي د خپلي بر الا جهت ګیری په خاطر تر زیاتو انتقاداتو لاندي راغلی دئ . د دغي شبکي څخه زیاتره انتقادونه د کوچني جورج بوش د جمهوري ریاست په دوران کي د امریکا د سخت دریزه محافظه کارانو څخه کېدله . د رسنیو د خبره ګانو په عقیده فاکس نیوز هیڅکله هم خبري واقعیتونه تر خلکو پوري نه دي رسولي بلکه هغه څه چي څپاره کړي یې دي د بوش او سپیني ماڼۍ ډیکټي او یا د سخته دریزو محافظه کارانو د رضایت د حاصلولو د پاره وې .

پر عراق باندي د امریکا د ظالمانه پوځي یرغل په جریان کي (۲۰۰۳ کال) یو د هغه مواردو څخه چي فاکس نیوز خپل ځان د رسنیو دکارپوهانو تر مستقیم انتقاداتو لاندي راوستی وو، هغه ددې رسنی جانبدارانه موضع ګیري وه چي د کوچني بوش د جګړه ماري اداري د پالیسیو څخه یې الهام اخیست . فاکس نیوز د عراق د جګړې په جریان کي په خپلوګزارشو کي بر الا د خبر دانحصار او په هغه کي د لاسوهني کردار اداء کړی وو . په دغه جګړه کي د فاکس خبریالانو یکطرفه ګزارشونه تهیه کړي او زیاتر ه خبرونه یې عوض ددې چي راسأ څپاره سي هغه به یې د امریکا و پوځي مقاماتو ته راجع کول ، په خپلو خپرونو کي به یې د هغوی په ډیکټه لاس وهنه کوله او د امریکايي عسکرو د تلفاتو دقیق رقم به یې نه ښووده . را وروسته په خبر کي دغه د عینیت او سلامیت مسئله د مخاطبانو لخوا تر جدي پوښتني لاندي را غله .

د تېر کال (۲۰۰۹) په سپټامبر کي د اوباما د دولت او فاکس نیوز تر مینځ هم یو غیر رسمي اختلاف را منځته سوی وو ، دهمدې اختلاف په وجه وو چي د امریکا جمهور رئیس بارک اوباما پرېکړه کړې وه د فاکس نیوز د شبکي نه ماسیوا ځان د نور ټولو رسنیو په برنامو کي ظاهر کړي . دغه کار په واقعیت کي د هغه مخالفت او منفي جهت ګیری په ځواب کي عکس العمل وو چي فاکس نیوز د اوباما د صحي خدمتونو د پیشنهادي برنامې په وړاندي ښرګندکړی وو. حتی د اوباما د مشاورینو څخه یو کس ویو ایس نیوز (US News) ته ویلي وه چي د اوباما د جمهوري ریاست په دوران کي سپینه ماڼۍ هیڅکله هم د فاکس نیوز په خبري بولټنو کي په منصفانه توګه نه وه منعکسه سوې . وروسته بیا د سپیني ماڼۍ مقاماتو فاکس نیوز ته د یوې «غیر خبري شبکي» نوم ورکړ او ویلي یې وه چي « فاکس نیوز شبکه د یوه پلټونکي همکار په توګه د جمهوري غوښتونکود ګوند د ارتباطي بازو په حیث عمل کوي » .

د افغانستان او عراق په ظالمانه جګړو کي دډله ییزه رسنیونقش او د هغوی اهمیت هغه وخت د عوامو د قضاوت په تله کي راغلی چي خپل جانبدارنه ګزارشونه یې و ټولو ته رسوا سول . د متحده ایالاتو د رسنیو جګړه او د واقعي تصویر په نه ارایه کولو او د خپلو مخاطبانو د اعتماد په جذبولو کي شرمناکه کارنامه شاته پرېږ ایښېده . ددې جګړو د اثراتو څخه یوه دا هم وه چي امریکا د خپلو رسنیو و وجهي ته چي د دیموکراسی څلورم رکن بلل کیږي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

يوه سنګينه ضربه ورکړه . رسنيو په دې ناروا جګړو کې خپل اعتبار له منځه يووړ، داځکه چې خپل تحليلونه يې د درواغو اوجعلي شواهدو پر اساس او ددې جګړو د سازمان ورکونکو د ګټو پر مبنا عيار کړي وه .

نن په کلي توګه په امريکا کې د ډله ييزې رسنيو مهار د روپرټ مرډاک غوندې څو د ګوتو په شمېر امريکايي شخصي کمپنيو په لاس کې راغلې دي . هغه احصائيه چې مطبوعاتي کارپوهانو وړاندې کړېده د غرب د ډله ييزه رسنيو په سلو کې ۷۰ اختيار د يهودي بانک لرونکو او لويو سرمايه دارانو په لاس کې دي . ۲۵ ٪ يې د څو مليتيزه کارټلان ، د بانکو مالکان او ترا ستان کنترولوي ، يوازې ۵ ٪ يې ډموکراټان او ملي ګرا عناصر اداره کوي چې هغه هم د مشکلاتو له بابته يې دموادو کيفيت او تخنيکي ظرافت په ضعيف حالت کې قرار لري . پر رسنيو باندې دغه شاني يوه سرطاني پيچلې انحصاري شبکه په نړۍ کې د هيوادو د لاندې کولو د پاره استعماري او امپرياليستي اهداف تعقيبوي .تر هغو چې په رسنيو باندې دغه شاني غير طبيعي انحصار موجود وي عوام د هغوی و تولو محصولاتو او د خبرو د خپرولو و طريقې او موادو ته د شک په سترګه ګوري ، دا ځکه چې ددغه عظيمو کمپنيو اولنی هدف په امريکا او نړۍ باندې اقتصادي او فرهنګي بابايي ده نه د کره اطلاعاتو رسول .
دغه کوچنی اقليت داسې پريکړې کوي او داسې تبليغاتي هدفونه ټاکي چې د خلکو د بنيادي ګټو سره تضاد لري .
دغه د رسنيو مالکان دي چې و ټولنې ته وايي په کومو شيانو بايد وپوهيږي او کوم شيان بايد تر هغوی و نه رسيږي؛ کومې پيښې بايد ورته ګزارش سې او پر کومو باندې تله تېره کې؛ کومې ديدګاوې بايد و ارزول سې؛ کوم سياست دان بايد شايسته، امين ، د اعتماد وړ او توانمنده معرفي کړل سي او کوم بل يې بيا بدنامه، کډو، بې صلاحيته، خطرناکه، افراطي او متعصبه و بولي . دغه کار بنيي چې د همدغه کوچني اقليت قدرت تر يوه صدراعظم يا د هغه تر کابينې لا هم زيات دئ . دغه اقليت و عمومي افکارو ته شرطونه تعينوي چې سياستمداران يې بايد د هغه په چوکاټ کې عمل وکړي؛ هغه ته احترام ولري او د ټاکل کېدو په صورت کې د هغوی شرايط او ګټې مد نظر ولري .

برنارد کوهن (Bernard Cohen) چې د سياسي علومو دانشمند دئ ، وايي چې :« رسنۍ به ممکن موږ ته و نه وايي څرنګه فکر وکړو، خو په حيرانوونکي توګه موږ ته په اطمينان سره دغه خبره تلقينوي چې په څه شي کې بايد فکر وکړو» . دا هغه څه دي چې د امريکا او نړۍ غاصبه ثروتمندان يې په نړۍ کې دغه شاني تلقيناتو په شيندلو سره د فاکس نيوز غوندې رسنيو لخوا اجرا کوي او دداسې نظامو څخه دفاع کوي چې د هغوی بنيادونه پر ناپوهۍ، درواغو او د خلکو پر اغوا او فريب باندې ولاړ دي.

مأخذونه او منابع:


http://en.wikipedia.org/wiki/Fox_News_Channel
http://www.foxnews.com
http://en.wikipedia.org/wiki/News_of_the_World
http://en.wikipedia.org/wiki/Rupert_murdoch
http://en.wikipedia.org/wiki/News_Corporation
http://en.wikipedia.org/wiki/John_Moody_(journalist)
http://www.stateofthemedia.org/2005/
http://people-press.org/report/559/
Tuccille, J, (2003), Rupert Murdoch, , New York: Bread books.
American Journalism Review:
http://www.ajr.org/article.asp?id=4236
Vaughn, S. L. (2007). Encyclopaedia of American Journalism, CRC Press.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ